د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

HIZB UT TAHRIR

پنجشنبه 1 ذی‌القعده، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰5/09م | گڼه: ح.ت.افغ 22/۱۴۴۵

**مطبوعاتي اعلامیه**

## د متکبر غرب جنایتونو ته غاښ ماتوونکی ځواب او د مسلمانانو له وینو دفاع د امت له وحدت او د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته شوني نه ده

ګارډین ورځپاڼې راپور ورکړی چې په افغانستان کې د بریتانیایي پوځیانو د جنګي جنایتونو قضیې ته رسیدګي ښایي تر ۲۰۲۵م کال پورې وځنډېږي. د بریتانیا هوایي ځواکونه په هلمند ولایت کې د افغانتسان د شاوخوا ۸۰ مسلمانانو پر وژنې تورن دي. ویل شوي چې دغو سرتېرو یاد کسان د ۲۰۱۰-۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د خوب پر مهال یا تر نیولو وروسته په سړه سینه وژلي. د قضیې یوه وکیل ویلي چې د بریتانیا ځانګړو ځواکونو په هلمند کې «د جګړې پر شرایطو برابرو ټولو نارینه‌وو» د له منځه وړلو سیاست پلی کړی. دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۲۰م کال کې د استرالیا نظامي څېړنو هم تایید کړې وه چې د دغه هیواد ځواکونو په افغانستان کې د ۲۰۰۵-۲۰۱۶ کلونو ترمنځ د ماشومانو او بندیانو په ګډون شاوخوا ۳۹ ملکیان په مرمیو وژلي.

یادې پېښې په افغانستان کې د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو د زرګونو جنایتونو وړه بېلګه ده چې ډېره کمه برخه یې منعکسه شوې. د مسلمانانو پر وړاندې د غرب جنایتونه یوازې تر افغانستانه نه را لنډېږي، بلکې ۱۰۳ کاله کېږي چې د خلافت دولت په نشتون کې له فلسطین څخه تر عراق او له سوریې تر افریقا پورې د مسلمانانو وینه په ډېرې بې رحمۍ تویېږي او د مسلمانانو هېڅ پوځ او حاکم نشته چې د دغې ارزښتمنې وینې دفاع وکړي. ان تر دې چې د مسلمانانو وینه د غربي سرتېرو پر سرګرمۍ بدله شوې؛ ځینو امریکایي او د ناټو پوځیانو اعتراف کړی چې په افغانستان کې یې د ماموریت پر مهال د شرط تړلو او د تفریح په موخه ملکي خلک ویشتل.

په غرب کې چې د جنګي جنایتونو د څېړلو لپاره کومې محکمې جوړېږي، د عدالت ټینګولو وړتیا نه لري. ډېری تورن کسان د ډول ډول جنګي جنایتونو پر ترسره کولو سربېره، په نظامي محکمه کې تبرئه شوي او له معنی لرونکې موسکا سره له محکمې وتلي. لکه څه ډول چې ټرمپ په ۲۰۱۹ کال کې درې هغه جنګي جنایتکاران وبښل چې په افغانستان او سوریه کې د بې ګناه مسلمانانو قاتلین وو او ان محکمو پرې د اوږدې مودې بند جزا حکم صادر کړی و.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د غرب ټول تاریخ د بشریت پر وړاندې له جنایتونو ډک دی او په هره خاوره کې یې چې خپل شوم ګام ایښی، وحشت او جنایت یې رامنځته کړی. ځکه چې غربي اشغالګر هېڅ انساني او اخلاقي ارزښت ته ژمن نه دي. د غرب جرایم یوازې تر جنګي جنایتونو نه را لنډېږي، بلکې له هغه وخته چې خلافت سقوط شوی او د ډیموکراسۍ فاسدې مفکورې او وینه زبېښونکې پانګوال نظام د نړۍ واکمنې په لاس کې اخیستې، ټول بشریت او په ځانګړې ډول اسلامي امت تر اشغال، استعمار، ظلم او جنایت لاندې دی او ان ځمکه، سمندر، مرغان او ژوي هم د دوی له جنایتونو خوندي نه دي پاتې.

په حقیقت کې؛ هر مسلمان چې وژل کېږي، هغه یو عدد نه بلکې یو انسان دی او هر ځاځکی وینه یې تر کعبې لوړ ارزښت لري؛ د مسلمان د یوه ځاځکي وینې لپاره پکار ده چې د غرب مبدأ، ثقافت او نظم یې را نسکور او له منځه لاړ شي. خو هغه څه چې د خواشینی وړ دي، دا دي چې په تېرو ۲۰ کلونو کې د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس پر وړاندې د غرب پر جنګي جنایتونو سربېره، اوسنی حاکم نظام له دغو جنایتکارانو سره د نږدې اړیکو ټینګولو په هڅه کې دی او د بریتانیې او امریکا له امنیتي چاراوکو او ډیپلوماټانو سره سیاسي او امنیتي ناستې کېږی. په دغو ناستو کې له هغوی څخه د سیاسي مشروعیت او اقتصادي مرستو غوښتنې کېږي. موږ په ډیر اخلاص خپلو مجاهدو وروڼو ته شرعي تذکر ورکوو چې پیاوړی نظامي موقف مو د جګړې په ډګر کې د دښمن د ماتې سبب شو، اړتیا ده چې د سیاست او ډیپلوماسی په ډګر کې هم پیاوړی شرعي موقف ونیول شي چې دغه مکار او جنایتکار دښمن زموږ په خاورو کې د نفوذ فرصت او جرات پیدا نه کړي. شرعي سیاست حکم کوي چې له دغو جنایتکارانو سره هر راز سیاسي او اقتصادي تعامل پای ومومي او د امت د وحدت لپاره هڅې وشي. ځکه چې د متکبر غرب جنایتونو ته غابښ ماتوونکی ځواب او له اسلامي ارزښتونو او د مسلمانانو له وینو دفاع د امت له فکري، سیاسي، نظامي او جغرافیوي وحدت او د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته شونې نه ده.

«**إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ**» رواه مسلم.

**ژباړه:** «امام (خلیفه) ډال دی چې تر شا یې جګړه کېږي او هغه ته پنا وړل کېږي. که چېرې هغه له الله عز وجل څخه پر تقوی امر وکړي او عدالت وکړي، نو د هغه لپاره د دغو کارونو اجر دی، خو که چېرې له دې (تقوی او عدالت) پرته پر بل څه امر وکړي، نو ګناه یې د هغه پر غاړه ده».

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر